## ریـــا ســـت دفـــــــتـــــر مقـــــــام

### آمـــــــــــریـــــــت اطـــلاعـــات و ارتـــبـاط عامـــــه

## مطبوعاتي اعلامیـــــه

**کابل- افغانستان ۱۳۹۲/۱۱/۰۹**

**د افغانستان لپاره په فضايي مدار کې لومړنی سپوږمکی افغان سټ ۱ (Afghansat1)**

د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت خپلو هیوادوالو ته د لازیاتو چوپړتیاوو د برابرولو په موخه ویاړي چې نن د یوټل سټ (Eutelsat ) شرکت سره په فضايي مدار کې د لومړنۍ سپوږمکۍ (سټلایت ) هوکړه لیک لاسلیک کوي.
یاد شرکت د یوې شفافې پروسې په ترڅ کې ددې ترون ګټونکی شو. دغه شرکت په فضایي مدار کې سپوږمکی ځای په ځای کوي چې نوموړې سپوږمکۍ د افغان سټ۱ (Afghansat1) په نامه نومول شوې ده.
دغه شرکت دنده لري چې په یوه میاشت کې افغان سټ ۱ سپوږمکی (سټلایت ) په فضايي مدار کې ځای په ځای کړي چې له خدمتونو به يې ډېر ژر هیوادوال برخمن شي.
د افغان سټ۱ سپوږمکی په وسیله به د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجی وزارت په دې وتوانیږي چې د افغانستان هر ګوټ ته په خاصه توګه لیرې پرتو سیمو ته لاندې خدمتونه ورسوي:

- مخابراتي او انترنیتي اسانتیاوې
- په مستقیمه توګه د خلکو کورونو ته د راډیو او تلویزیون خپروني
- د ټولو دولتي او خصوصي ادارو نښلول
- د نظامي قواوو د اړیکو د ټینګولو لپاره

د پورته اسانتیاوو تر څنګ، د افغانستان تلویزیونونه به وتوانیږي چې د افغانستان د ګاونډیو هیوادو تر څنګ په مرکزي آسیا او منځني ختیځ هیوادونو کې هم خپروني وکړي.

**په درنښت**

**امیرزی سنګین**